دو فصلنامۀ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنۍ مجله

د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسۀ تحصیلات عالی لوګر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# د مجرم بندي کولو او په تعزيري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ پرتله‌ییزه علمي او اقتصادي څېړنه

**پوهنمل محمد یوسف زمانی[1*]، پوهنیار عبدالعزیز عابد[2]**

[1] قضاء او څارنوالی څانګه، حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون، پکتیا: افغانستان.

بریښنالیک: myousafzamani2@gmail.com

[2] فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه، لوګر: افغانستان.

**لنډيز**

د عدليې وزارت په چوکاټ کې د محبسونو د مديريت رياست شته، چې په ټول هېواد کې د محبسونو د اعاشې، اباطې، استوګنې او مديريت چارو مسؤليت لري. د کلنی بوديجې د ترتيب پر مهال، د دې برخو لګښتونه د هېواد پر بيت المال درووند مالي پېټی ګڼل کېږي.

که څه هم حبس د تعزير وړ جرايمو لپاره يو جنايي مجازات دي، خو د اسلام په فقه کې د تعزير لپاره ګڼ شمېر نورې شرعي جزاګانې هم شته، چې قاضي يې د ټولنيز مصلحت له مخې ټاکلی شو.

څنګه کولای شو، چې د افغانستان د بيت المال د محبسونو درووند مالي پېټی کمولو لپاره شرعي، علمي او اقتصادي طرحه چمتو کړو، چې قانوناً تضمين شوې وي، د الله جل جلاله د (إِنَّ اللَّهَ يأْمُرُ بِالْعَدْلِ) حکم پر بنسټ د جنايي عدالت ټينګښت او د شرعي اصولو انطباق هم پکې تضمين شي؟

د موخې د ترلاسه کولو لپاره مې د حبس په مقابل کې د تعزيري دُرو جزا پرتليزه څېړنه وکړه. د کتابتوني مېتود او معتبرو سرچينو په کارولو سره دې پايلې ته ورسېدم، چې:

د حبس جزا د بيت المال درووند مالي پېټی او د مجرم اصلاح لپاره کم اغېزناك دی، په داسې حال کې چې د تعزيري دُرو جزا شرعي، اقتصادي او ټولنيز غوره بديل ګڼل کېږي.

**کليدي کليمې**: د اسلام جنايي فقه، د حبس جزا، په دُرو د وهلو جزا، علمي او اقتصادي پرتلنه.

**استناد**: زماني، محمد يوسف، او عابد، عبدالعزيز. (1403). د مجرم بندی کولو او په تعزيری دُرو وهلو اړوند جزاګانو پرتله ييزه علمي او اقتصادی څېړنه **عينک** *علمي*- څېړنيزه مجله، دويم کال، ګڼه 3، صفحه ۱۷۲-۱۸۳.
خپرندويه اداره: لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسه
© د ليکوال يا ليکوالانو حق.

**سریزه**

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم؛ أما بعد: فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم، قال الله تبارک وتعالی فی القرآن المجید: یا بَنِی آدَمَ خُذُوا زِینَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ وکُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا یحِبُّ الْمُسْرِفِینَ.(الاعراف: ۳۱).

قال رسول الله ﷺ: کَادَ الْفَقْرُ أَنْ یکُونَ کُفْراً. ( بیهقی, أبو بکر أحمد بن الحسین البیهقی, (۲۰۰۰) م ، شعب الایمان, ج ۵ ص ۲۶۷. )

دا چې انسان طبیعتاً او فطرتاً مدني او ټولنیز مخلوق دی او نه شي کولای، چې یو له بله دې جلا یواځې او منزوي ښه خپل ژوند ته ادامه ورکړی؛ ځکه انساني ټولنه، ښوونکی، امام، قاضي، امنیتي مؤظفین، ډاکټر، انجینر، دوکاندار، بزګر، خټګر، اهنګر او دې داسې نورو هنرونو او فنونو کسبګرو ته اړتیا لري، کوم چې د انساني ژوندانه د ورځنیو اړتیاوو تأمینوونکي دي. له همدې امله انسان اړ دی، چې په ټولنه کې د نورو انسانانو تر منځ خپل ژوند ته تر پای شېبو پورې ادامه ورکړي.

هېره دې نه وي، چې د انسانانو تر منځ ټولنیز ژوند دې تل سوکاله، نېکمرغه او د امن په فضاء کې ادامه ولري، بلکې د انسان له طبعیت او شخصیت سره د مثبتو ځانګړتیاوو تر څنګ منفي خصایص هم مل دي، چې بیا همدغه منفي خویونه د ځینو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، د چاپېریال د بد وضعیت... په پایله کې د ځینو نورو عواملو او انګېزو سره مل د شخص پر مثبتو خویونو باندې داسې غلبه کوي، چې ځیني اشخاص د نورو په ځان، مال او ناموس باندې تېری کولو ته هڅوي او د دوی په لاس د جرمونو د ارتکاب لامل ګرځي، کوم چې په پایله کې د ټولنیز ژوند منل شوی اصل (ټولنیز امن) د ثبات له چوکاټ وباسي او د ټولنې وګړو ته کلکه ضربه ورسېږي. په داسې حالاتو کې د ټولنیز مصلحت پر بنسټ سرغړونکي مجازات کېږي. ترڅو ټولنه ترې پند واخلي او د شریعت ـ قانون لارښوونې پلې شي.

**د څېړنې ستونزه**

دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او دلته د الهي قانون په چوکاټ کې د حدود، قصاص او دیت وړ جرایمو مرتکبینو د عدلي او قضایي تعقیب لپاره د اسلام جنایي فقه شته، همدارنګه د همدغه اسلامي جنایي فقهې له مخې د غیر ټاکلیو جرایمو (د تعزیر وړ جرایمو) د مرتکبینو د عدلي تعقیب، محاکمې او مجازات کولو لپاره اولوالأمر ته واک ورکړل شوی، ترڅو د ټولنیز مصلحت په پام کې نیولو سره د تعزیر وړ جرایمو لپاره د مناسب تعزیر جنایي سیاستونه پلي کړي، د کوم له مخې چې جنایت کوونکي او وران کاري تر عدلي تعقیب، محاکمې او مجازاتو لاندې نیول کېږي.

خو پوښتنه دا ده، چې د تعزیر وړ جرایمو مرتکبینو د زنداني کولو جزا په بیت المال باندې یو درونږ مالي پېټی دی، چې د هر مالي کال په مالي بودیجه کې ورته ځانګړې اندازه په پام کې نیول کېږي. په داسې حال کې چې د اسلام جنایي فقهې د یادو جرمونو لپاره ډېرې نورې تعزیري جزاګانې په ګوته کړې دي، چې په مرتکبینو باندې یې تطبیقول د بندي کولو جزا په نسبت څو چنده لوړ تأدیبي

او تنبیهي اغېزې لري؛ نو بیا ولې د حبس یو بدیله شرعي تګلاره انتخاب نه شی. په همدې تړاو مو وپتېله ترڅو د یوې علمي څېړنې په لړ کې د یادو تعزیري شرعي جزاګانو څخه د حبس جزا بدیله اقتصادي جزا انتخاب او ذیصلاح ارګانو ته یې خپلو پالیسیانو کې د ځای پر ځای کولو په موخه د یوې قانع کوونکې طرحې په بڼه وړاندیز کړو.

د همدې پوښتنې د ځواب رابرسېره کولو لپاره مو د دغې څېړنې تر سره کولو ته اقدام وکړو، ترڅو د عدالت برخې اړونده هم مسلکه کارکوونکو ته یوه علمي او څېړنیزه طرحه وړاندې کړو او یادې قضایاوې یې د همدې طرحې په رڼا کې حل او فصل کړي.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت په لاندې په څو برخو کې بیانوو:

**اقتصادي ارزښت**

د دې څېړنې اقتصادي ارزښت دا دی، چې د محبسونو د لګښتونو کمول د دولت لپاره ستره مالي سپما ده، په داسې حال کې چې ګران هیواد د درنو مالي اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، دُرو وهلو سزا لږه مالي اړتیا لري او چټکه پلې کېدای شي، چې د دولت پر مالي سرچینو فشار کموي.

**علمی ارزښت**

دغه څېړنه په علمي ډول د حبس او دُرو وهلو سزاګانو اغېزې پرتله کوي، چې د جزاګانو مؤثریت، ټولنیزې او اقتصادي اغېزې په شفاف ډول توضیح کوي.

د دې څېړنې پایلې به د افغانستان اسلامي امارت لپاره د داسې قوانینو او پالیسی جوړونې بنسټ کېږدي، چې د بیت المال بار کم کړي او د شرعي اصولو سره سمون ولري.

**د څېړنې عمومي موخه:** د مجرم بندي کولو او په تعزیري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ پرتله‌ییزه علمي او اقتصادي څېړنه.

**د څېړنې فرعي موخې:**

- د مجرم بندي کولو او په تعزیري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ پرتله‌ییزه علمي څېړنه.
- د مجرم بندي کولو او په تعزیري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ پرتله‌ییزه اقتصادي څېړنه.

**د څېړنې عمومي پوښتنه:** څنګه کولی شو د مجرم بندي کولو جزا او په تعزیري دُرو وهلو جزا ترمنځ علمي او اقتصادي پرتله وکړو؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې:**

- د مجرم بندی کولو او په تعزیري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ کوم علمي توپیرونه شته؟
- د مجرم بندی کولو او په تعزیري دُرو وهلو جزاګانو ترمنځ کوم اقتصادي توپیرونه شته؟

### ۳. تېرو آثارو ته کتنه

د تعزیر وړ جرایمو د مرتکبینو مجازات کول د حبس او په دُرو وهلو له لارې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د شرعیاتو پوهنځي د فقهې او قانون څانګې، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د اړونده درسی نصاب کې د ځای پر ځای شوي مضمونونو (فقه الجنایات/ د اسلام جزایي حقوق) پورې اړوند مفرداتو موضوع ده. په دې برخه کې شهید عبدالقادر عودة د اسلام جنایي تشریع او وضعي قوانینو تر عنوان لاندې معتبر کتاب تالیف کړی. همدرانګه د کابل پوهنتون استاد پوهاند داد محمد نذیر د اسلام اختصاصي جزايي حقوقو تر عنوان لاندې کتاب تألیف کړی. همدا شان د ننګرهار پوهنتون استاد پوهاند احمدګل واثق د اسلام جزايي حقوقو تر عنوان لاندې کتاب لیکلی، چې په دې ټولو کتابونو کې د شرعي تعزیر او د هغې د انواعو څخه بحث شوی دی. خو زموږ د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې په دغه ټولو لیکنو کې په تخصصي ډول د حبس جزا او په دُرو وهلو جزا تر منځ د اقتصادي پرتلیز بحث نه دی شوی، چې د تعزیر مجازاتو له جملې څخه یې کومه جزا نسبت هغه نورو ته په علمي او شرعي لحاظ له اقتصادي پلوه په تطبیقولو کې ګټور تمامېدای شي؛ نو په همدې مناسبت مو د افغانستان اسلامي امارت د عدلي او قضايي ارګانونو له لوري د تعزیري مجازاتو په تطبیق کې د اقتصادي تګلارې خپلولو لپاره د دې علمي او اقتصادي څېړنې له پاره لاس په کار شو.

### د څېړنې تګلاره او مواد

د دې عنوان د ښه وضاحت لپاره، په جلا جلا توګه لومړی د څېړنې تګلاره او بیا د څېړنې مواد، د موادو تحلیل او تجزیه تر بحث لاندې نیسو:

### ۴. ۱. د څېړنې تګلاره:

دا څېړنه د موخې له نظره کاربېدونکي، د اطلاعاتو او معلوماتو راټولو له نظره سیستماټیکه او له تحلیلي مېتود (کړنلارې) څخه په کې ګټه اخېستل شوې ده، ترڅو وکولای شو، چې د یوې مؤثقې پایلې په ترلاسه کولو باندې برلاسي شو.

### ۴. ۲. د څېړنې مواد

دا یوه مروري څېړنه ده، چې د اړونده موضوع کتابونو او د مالوماتي بانکونو لټون څخه مو په کې ګټه اخیستې ده. لکه Islam Web, Google Scholar, Web of Science, او داسې نور سایټونو څخه مو مالومات ترلاسه کړي دي او بیا مو تحلیل او تجزیه کړي دي، ترڅو وکولای شو له علمي او کیفي اړخه د موضوع حق په ښه توګه اداء کړل شي. اړینه بولو چې په لاندې توګه یې د څو جلا جلا مبحثونو په ترڅ کې تر څېړنې لاندې ونیسو:

### ۴. ۲. ۱. د اسلامي جنایي فقهې له مخې د قاضي د واك له پلوه د جزاګانو ډولونه

د اسلام په جنایي فقه کې له دې زاویې څخه جزاګانې په لاندې دوو ډولونو وېشل شوې دي:

- هغه جزاګانې چې ټاکلې اندازه لري.
- هغه جزاګانې چې ناټاکلې اندازه لري (پوهنمل مفتی محمد ولی حنیف،۱۳۹۷، ص ۲۷۹).
چې د ښه وضاحت په موخه یې هر ډول جلا جلا تر بحث لاندې نیسو:

**۴. ۲. ۱. ۱ هغه جزاګانې چې ټاکلې اندازه لري**

دا هغه جزاګانې دي، چې د الله جل جلاله له خوا یې حد او اندازه ټاکل شوې وي او قاضي په کې د ډېرښت، کمښت او بدلون واک ونه لري، لکه د بېلګې په توګه:
- حدودو.
- قصاص (عبدالقادر عودة، ۱۳۸۴هـ ش، ص ۷۹).
- او د دیت ټاکلې جزاګانې ( مولانا پروفیسور شاه فیصل، ب- ت ، ۱۴۱)

**۴. ۲. ۱. ۲ هغه جزاګانې چې ناټاکلې اندازه لري**

دا هغه جزاګانې دي، چې قاضي ته په کې د ډېرښت، کمښت او بدلون واک حاصل وي (پوهاند احمد ګل واثق، ۱۳۹۷، ص ۱۱).
د بېلګې په توګه تعزیري جزاګانې کوم چې لاندې مختلفو ډولونو ته شاملې دي:
- اعدام.
- په دُرو وهل (عبدالقادر عودة، ب- ت، ج ۴)
- حبس.
- تغریب او جلا وطن کول.
- د وعظ، هجر، توبیخ، تهدید او تشهیر تعزیري جزاګانې.
- مالي جزاګانې.
- د دندې څخه ګوښه کول.
- د ځینې مدني حقونو څخه محرومول ( پوهاند داد محمد نذیر،. ۱۳۹۳، ص ۳۹۶).

**۴. ۲. ۲. د حبس تعزیري جزا او په دُرو وهلو تعزیري جزا علمي او اقتصادي پرتله‌ییزه څېړنه**

په دې منظور چې په هر اړخیز ډول د حبس جزا او په دُرو وهلو تعزیري جزاګانو ترمنځ علمي او اقتصادي پرتله‌ییزه څېړنه وکړو؛ نو په لاندې ډول یې له مختلفو زاویو څخه پرتله تر څېړنې لاندې نیسو:

**۴. ۲. ۲. ۱. د مشروعیت او ناټاکلي‌والي له پلوه**

د اسلام په جنایي فقه کې د فقهاوو تر منځ د حبس جزا په اړه د نظر اختلاف شته، ځینې فقهاء وایي جواز نه لري؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه نه زندان درلود او نه یې څوک زنداني کړي دي. ولې اکثر فقهاء د لاندېنې قوي استدلال پر بنسټ د مجرم اصلاح او روزنې په پام کې نیولو سره د زندان جزا ته مشروعیت ورکوي:
د بېلګې په توګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې هغه شخص، چې د قتل په قضیه تورن و زنداني کړی و. همدارنګه بله یوه قضیه داسې وه، چې یو شخص د بل شخص لپاره یو درېیم

شخص نیولی و، تر دې چې نیول شوی شخص یې وواژه، په دې قضیه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې پرېکړه کړې وه، چې: (اقتلو القاتل واصبرو الصابر. بیهقی، , أبو بکر أحمد بن الحسین البیهقی ) (۲۰۰۳) م , سنن البیهقی, ج ۸ ص ۹۱).

قاتل ووژنئ او غیر قانوني توقیفوونکی شخص زنداني کړئ.

همدارنگه حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنه خپل زندان درلود او د توهین په تور یې په کې د (الحطیه) په نوم تورن شخص زنداني کړی و (فخرالدین عثمان بن علی الحنفی، ۱۳۱۳، ص ۲۰۷).

خو په دُرو باندې د وهلو تعزیري جزا په قرآني نص او احادیثو دواړو سره ثابت ده، لکه:

الله جل جلا له په قرآن عظیم الشان کې د سرکشې ښځې د تأدیبولو په اړه حکم کوي: تاسې چې د کومو ښځو له سرغړونې څخه په اندېښنه کې یاست، هغوی(لومړی) پوهه کړئ، (بیا) د خوب ځایونه ور څخه جلا کړئ، او(بیا) یې ووهئ (تأدیبي ووهئ)...

وَالَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ... (النساء: ۳۴ ایت).

په پورتني ایت کې د ښځې د پرلپسې سرغړونې په تأدیب کې الله جل جلا له د وهلو تعزیر په گوته کړی، کوم چې د تعزیری دُرو مشروعیت را په گوته کوي.

همدارنگه صحیح بخاري ، صحیح مسلم ، سنن ابوداود، سنن بیهقي د ابو برده انصاري رضي الله عنه څخه روایتونه نقل کړي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

لَا عُقُوبَةَ فَوْقَ عَشَرَةِ أَسْوَاطٍ إِلَّا أَنْ يكُونَ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ» (عبدالرزاق, أبو بکر عبد الرزاق بن همام الصنعانی، (۱۴۰۴ هـ) مصنف عبدالرزاق,. ج ۷ ص ۴۱۳.)

ژباړه:- د لسو دُرو څخه ډېره جزا هیڅ چاته نه ورکول کېږي، مگر د الله تعالی له حدودو څخه په یو حد کې. که وکتل شي، د (۱۰) لسو ځلو څخه زیات وهلو مسئله په حدودو کې ده او په قصاص کې خو دُرې نشته نو د (۱۰) لسو دُرو څخه د کمو وهلو سزا څخه مراد تعزیر دی.

همدارنگه که چېرې د ناټاکلي‌والي له پلوه یې مطالعه کړو، دا په دې معنا چې ناټاکلې جزاگانې هغه دي، چې د شارع له خوا یې اندازه نه وي ټاکل شوې او قاضي ته یې د مجرم وضعیت او حالت په پام کې نیولو سره په اندازې ټاکلو کې د ډېرښت او کمښت واک حاصل وي. دې ډول جزاگانو ته تخییري جزاگاني هم ویل کېږي (عبدالقادر عوده، ب- ت، ص ۳۲).

لکه د بېلگې په توگه د حبس جزا د اسلام جنایي فقهې له مخې دوو ډولونو وېشل شوې ده: لومړی ډول یې د معلومې مودې حبس دی، چې عادی مجرمینو ته ورکول کېږي، اقل موده یې یوه ورځ او د اکثرې مودې په اړه یې فقهاء د نظر اختلاف لري: ځینې وایي د دې حبس د اکثر مودې واك اولو الأمر ته حاصل دی، چې د مجرم د احوالو په پام کې نیولو سره څومره چې لازم بولي حکم ورکولای شي، ولې ځینې وایي چې (۱) یو کال او ځینې وایي چې له (٦) شپږو میاشتو باید تجاوز ونکړي. دویم ډول د حبس جزا یې د نامعلومې مودې حبس دی، چې دا متفق علیه موضوع ده، چې په خطرناکو او حرفوي مجرمینو باندې تطبیقېږي او تر هغې ادامه لري،چې په مجرم کې د اصلاح نښې ولیدل شي او

توبه وباسي، کنه نو د عمر تر پای پورې په زندان کې ساتل کېږي. دا تعزیري جزا د لومړی ځل لپاره د اسلامي جنایي فقهې له مخې پېژندل شوې او په (۱۹) مه پېړی کې د موضوعه قوانینو د پام وړ گرځېدلې ده (داد محمد نذیر، ۱۳۹۳هـ ش، ص ۳۸۷- ۳۸۸).

همدارنگه په دُرو وهلو د اکثر او اقل مقدار په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف شته. دغه اختلاف نه یوازې د څلورو مذهبونو تر منځ شته، بلکې زمونږ په حنفي مذهب کې هم ځینې احناف د تعزیري دُرو اقل حد (۳) درې دُرې یادوي او وایي، چې له دې اندازې کمې دُرې د جاني د اذیت او اصلاح باندې تأثیری نه لري، ولې ځینې یې یوه دُره هم تأثیر غورځوونکې بولي. ابن قدامه رحمه الله په خپل کتاب المغنی کې ویلي دي، چې د تعزیري دُرو اقل حد نه دی معلوم او د اکثره حد په اړه احادیث شته (ابن قدامه، الشیبانی، ۹ج).

همدارنگه په دُرو د وهلو تعزیر د اکثر حد په اړه امام ابوحنیفه رحمه الله د (۳۹) نه دېرش او امام ابویوسف رحمه الله د (۷۵) دُرو څخه یادونه کړې ده. دواړه په لاندېني حدیث باندې استدلال کوي: مَنْ بَلَغَ حَدّاً فِی غَیرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنَ اَلْمُعْتَدِینَ .الحلیمی, الحسین بن الحسن بن محمد بن حلیم البخاری الجرجانی، (۱۹۷۹ م) (المنهاج فی شعب الإیمان, ج ۳ ص ۲۱۷. ژباړه:- څوک چې په غیر حد(تعزیر) کې د جزا کچه تر حد پورې ورسوي، د تېري کوونکو له ډلې څخه دی.

۱) امام ابوحنیفه رحمه الله په دې نظر دی، چې د دُرو حد ټیټه اندازه(۸۰) اتیا دُورې دي او د غلام شخص د حد اندازه د اصیل شخص د حد نیمایي ده، چې (۴۰) څلوېښت دُورې کېږي، نو بناءً د تعزیري دُرو اکثر حد (۳۹) نه دېرش دُرې دي، ترڅو حد ته ونه رسیږي.

۲) امام ابویوسف رحمه الله په دې نظر دی، چې د دُرو حد ټیټه اندازه(۸۰) اتیا دُرې دي، نو په دې منظور چې تر حد ونه رسیږي، د تعزیري دُرو مقدار (۷۵) پنځه اویا دُورې دی ( وردگ ۱۳۹۳هـ ش، ص۳۸۵- ۳۸٦).

نو که پورتني صورتونه تحلیل او تجزیه کړو، نو د ناټاکلي‌والي له امله په کې قاضي ته واک حاصل دی، چې د لږې او ډېرې حد تر منځ پر مصلحت ولاړه جزا انتخاب کړي، دا که د حبس په جزا کې وي او که د تعزیر دُرو په جزا کې.

**۴. ۲. ۲. ۳. د جزاگانو د اصلاحي، تنبیهي او ټولنې د دفاع او حمایي موخو د اجرائیوي ضمانت له پلوه**

دا چې پر مجرم باندې د مجازاتو تطبیقول ځانگړې فلسفه او موخې لري : د مجرم اصلاح، د ټولنې پاملرنه او د دفاع او حمایي موخو څخه عبارت دي (دانش،۱۴۰۰ هـ ش، ص ۱٦- ۲٦).

که چېرې مونږ په علمي لحاظ د حبس جزا او په دُرو وهلو تعزیري جزاگانو تطبیقي تأثیرات سره پرتله کړو، دا پایله تر لاسه کېږي، چې د جزاگانو تطبیقولو د یادو موخو اجرائیوی ضمانت د حبس جزا په نسبت په تعزیري دُرو کې په ډېر لوړ گراف شته؛ ځکه د حبس جزا په نسبت په تعزیری دُرو

کې د جزاګانو مشقتي او تحقیري ځانګړتیاوې په لوړ ګراف شته او دغه دواړه ځانګړتیاوې د جزاګانو د یادو موخو په تر لاسه کولو کې بنستیز نقش لوبوي.

ولې بل خوا ته د حبس په جزا کې بیا نه یوازې دا، چې د مجرم د اصلاح باعث نه ګرځی تذ دې چې د ابتدایي مجرمینو په څېر زندانیانو لپاره د زیان باعث ګرځی. له دې امله چې هلته د شدیدو جرایمو له مرتکبینو سره د ناستې پاستې پر مهال په خپله کړنه د ندامت حس یې وژل کېږي او په خپله کړنه د تسکین احساس ورته حاصلیږي، تر دې چې د هغوی له افکارو څخه متاثره ګواښ هم متصور دی او په دې سره محبس د جرایمو د زده‌کړنځي حیثیت خپلوي. که څه هم د ستونزې د رفع کولو لپاره په زندانونو کې مجرمین په صنفونو وېشل کېږي او په جلا جلا ځایونو کې ساتل کېږي، چې دا پالیسي بیا په مجرمینو کې له روغتیایي اړخه ستونزې راولاړوي او همدارنګه د دولتونو لپاره د مالي لګښتونو په لحاظ درنه تمامیږي (عودة،۱۳۸۴ هـ ش، ص ۶۰۲-۶۰۵).

**۴. ۲. ۲. ۳. نورو ته یې د جزایي صدماتو د سرایت له پلوه**

لکه څرنګه چې الله جل جلا له د قرآن عظیم الشان په فاطر سورة کې فرمایي:

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى...(فاطر/ ۱۸). ژباړه:- او نه به وي یو شخص د بل شخص د بوج اوچوتونکی (مفتی محمد شفیع، ژباړن: شاه فیصل، ب- ت، ص۲۰۳).

همدارنګه که چېرې د بشر په لاس جوړ شوي جزایي حقونو ته راشو، په دې جزایي حقونو کې د جرایمو او جزاګانو د شخصیوالي پرنسیپ په نوم پرنیسیپ حاکم دی، په دې معنی چې جرم یو شخصي عمل دی او پایلې یې پرته له همغه مقصر شخص څخه بل چاته سرایت نه کوي (دانش، ۱۳۹۵ هـ ش، ص ۵٦).

اوس که چېرې د حبس جزا او د تعزیري دُرو جزا د تطبیق څرنګوالي سره پرتله کړو، نو نسبت تعزیري دُرو ته د حبس په تطبیق کې د هغه محکوم شوي شخص کور ودانې او بچي په غیر مستقیم ډول د خپل خاوند او پلار د کړي جرمي عمل له مجازات کېدو څخه په غیر مستقیة ډول اغېزمن کېږي؛ ځکه پلار د کورنۍ د عاید ذریعه ده، کله چې پلار د یو جرمي عمل د ارتکاب له امله د حبس پر جزا محکومېږي، د هغوی د فامیل (اولاد او کور ودانې) نفقه او د ورځني ژوند د نورو اړتیاوو تأمینول هم ور سره زیانمن کېږي، لکه د تعلیم لګښت او داسې نورې اړتیاوې، په دې معنی چې د حبس جزا په تطبیق کې د جرایمو او جزاګانو د شخصیوالي پرنسیپ تر پښو لاندې کېږي او د مقصر شخص څخه پرته د جزایي مسؤلیت د ارجاع پایلې غیر مقصر اشخاصو ته هم سرایت کوي. د تعزیري دُرو په مجازاتو کې بیا دا حقوقي ستونزه نه شي رامنځته کېدلی او جنایي عدالت په کې په تمامه معنی په سم ډول متحقق کېدای شي.

**۴. ۲. ۲. ۴. په امارت او کورنۍ د اقتصادی اغېزو له پلوه**

لکه څرنګه چې په تېر بحث کې دا په ډاګه شوه، چې د حبس جزا د محکوم‌به شخص د کورنۍ په اقتصاد باندې اغیز لرونکې ده او د نفقې سربېره د ورځنیو نورو اړتیاوو تامینول له اقتصادي ستونزو سره

مخ کوي. سربېره پر دې د دولت پر کلنۍ مالي بوديجې هم اغېزمن دروند پېټی دی او د (GDP) Gross Domestic Product سرې سر عايد چې د دولت ناخالص عوايد شمېرل کېږي هم اغيزمن کوي؛ ځکه د محبوسينو اعاشه او اباطه، همدارنګه د محبس خونو د مديريت برخې د مؤظفينو مالي لګښتونه، سرې سر عايد نه ترلاسه کېدل او داسې نور ډېرې مسايل هر کال د هېواد د مالي بوديجې پېټی تر خپلې اندازې پورې دروندوي؛ نو په همدې تړاو که چېرې د تعزيري دُرو جزا تطبيق د حبس د جزا له تطبيق سره پرتله کړو؛ نو د تعزيري دُرو جزا په تمامه معنی د حبس جزا په نسبت اقتصادي تمامېږي او د هېواد په مالي بوديجه يې د دروندوالي هيڅ ډول اغيز نشي کولای.

**پايليزه**

د حبس او د تعزيري دُرو جزا د پورتنی علمي او اقتصادي پرتلنې له تحليل او تجزيې څخه وروسته لاندې حقايق د پايلې په بڼه تر لاسه کېږي:

- ✓ که چېرې په علمي لحاظ د مشروعيت له پلوه د حبس او تعزيري دُرو جزا سره پرتله کړو؛ د حبس جزا د مشروعيت په برخه کې فقهاء يو نظر نه دی، بلکې د نظر اختلاف لري، په داسې حال کې چې د تعزيري دُرو جزا د شرعي نصوصو له جملې څخه په قرآن او احاديثو دواړو سره ثابته ده. همدارنګه که د تنبيهي تأثيراتو له زاويې څخه يې پرتلنې ته وګورو نو د حبس جزا په نسبت په تعزيري دُرو کې په ډېره ګټوره بڼه متحقق کېږي. همدارنګه د جرايمو او جزاګانو د شخصي‌والي پرنسيپ په پام کې نيولو د حبس جزا په نسبت د تعزيري دُرو په جزا کې جنايي عدالت په تمامه معنی په سم ډول متحقق کېدلای شي. ولې برعکس د حبس په جزا کې د جنايی عدالت تأمين په سم ډول نه شی متحقق کېدلای.
- ✓ که چېرې په اقتصادي لحاظ د تعزيري دُرو جزا د حبس له جزا سره پرتله کړو؛ نو د تعزيري دُرو جزا د حبس جزا په نسبت سل سلنه اقتصادي تمامېږي. دا نه يوازې د دولت لپاره بلکې د محکوم شوي شخص د کورنۍ لپاره هم.
- ✓ د تعزيري دُرو جزا د حبس جزا په نسبت هم په علمي لحاظ او هم په اقتصادي لحاظ په مثمره او ګټوره پايلو منتج کېږي.

**۶. وړانديزونه**

د افغانستان اسلامي امارت ذيصلاح ارګانونو ته د پورتنۍ علمي او اقتصادي پرتله‌ييزې څېړنې د پايلو په پام کې نيولو سره لاندې وړانديزونه لرو:

- ✓ د حبس جزا دې يوازې د يو امنيتي تدبير په صفت د تورن شخص څخه د پلټنو کولو په موخه د نظارت او توقيفولو تر بريده محدود کړي او د جزا په حيث دې د تعزيري دُرو جزا د حبس جزا پر ځای د خپل جنايي سياست برخه وګرځوي.
- ✓ د تعزير وړ جنحې او قباحتي جرايمو کې تعزير بالمال د جنايي سياست برخه وګرځول شي؛ ځکه د افغانستان اسلامي امارت د عدلي جزايي محکمو د اجرآتو اصولنامې ۱۲

مه ماده حکم کوي، چې قاضي کولای شي د مال په هلاکت سره پرېکړه وکړي، نه د مال په أخذ سره. همدارنگه د یادې اصولنامې ۲۷ ماده بیا د تعزیر بالمال د ډولونو په لړ کې دا یادونه کړې چې تعزیر بالمال د اشد اړتیا په صورت کې د قضاء د لوړ مقام لکه سترې محکمې او د تمیز د عالي مقام سره په مشوره له اتفاق څخه وروسته جواز لري.

اوسمهال اشد اړتیا د افغانستان د اسلامي امارت اقتصادي غښتلیا ده. دا لاره کېدای شي زمونږ د اقتصادي پرمختګ لپاره یوه بله غوره عایداتي سرچینه جوړه شي.

## سرچینې


قرآن کریم.

بیهقی, أبو بکر أحمد بن الحسین البیهقی, *شعب الایمان*, المحقق: أبو هاجر محمد السعید بن بسیونی زغلول, الناشر: دار الکتب العلمیة، بیروت- لبنان, الطبعة: الأولى، ۱۴۲۱ هـ - ۲۰۰۰ م.

بیهقی, أبو بکر أحمد بن الحسین بن علی البیهقی, *سنن البیهقی*, المحقق: محمد عبد القادر عطا, الناشر: دار الکتب العلمیة، بیروت – لبنان, الطبعة: الثالثة، ١٤٢٤ هـ - ۲۰۰۳ م.

عبدالرزاق, أبو بکر عبد الرزاق بن همام الصنعانی, *مصنف عبدالرزاق*, المحقق: حبیب الرحمن الأعظمی,الناشر: المجلس العلمی- الهند، توزیع المکتب الإسلامی – بیروت,الطبعة: الثانیة، ۱۴۰۳ هـ .

الحلیمی, الحسین بن الحسن بن محمد بن حلیم البخاری الجرجانی،*المنهاج فی شعب الإیمان*, المحقق: حلمی محمد فودة, الناشر: دار الفکر, الطبعة: الأولى، ۱۳۹۹ هـ.

الحنفی، فخرالدین عثمان بن علی.(۱۳۱۳ه- ق). *تبین الحقایق شرح کنزالحقایق*، ج۳، الطبعه الاولی، تصویر دار، بېروت.

ابن قدامه، الشیبانی احمد بن حنبل ابی محمد بن عبدالله احمد.(ب- ت). *المغنی*، ج۹، دارالفکر، بېروت.

حنیف، پوهنمل مفتی محمد ولی.(۱۳۹۷هـ ش). *فقه عقوبات*، ج۱، لومړی چاپ، انتشارات نویسا، کابل/ افغانستان.

دوکتور عبدالعزیر، ژباړن: مولوی فرید احمد صمدی.(۱۳۹۷ هـ ش). *په اسلام کې جنایی فقه*، لومړی چاپ، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال آباد/ افغانستان.

دانش، حفیظ الله دانش.(۱۴۰۰). *جزا پېژندنه*، څلورم چاپ، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال آباد/ افغانستان.

دانش، حفیظ الله دانش، ژپاړن: بصیر احمد کوچی.(۱۳۹۵ هـ ش). *د جزا حقوقو تاریخ*، لومړی چاپ، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل/ افغانستان.

د عدلیه وزارت رسمی جریده.(ب-ت). *د افغانستان اسلامی امارت د عدلی جزایی محاکمو د اجراآتو اصولنامه*.

عودة، عبدالقادر، ژباړن: شهید عبدالهادی هدایت.(۱۳۸۴ هـ ش). *د اسلام جنایی تشریح او وضعی قوانینو پرتله*، ج ۱، پیغام نشراتی مرکز، پېښور/ پاکستان.
عودة، عبدالقادر، ژباړن: دکتر حسن فرهودی نیا.(ب- ت). *برسی تطبیقی حقوق جزا اسلام و قوانین عرفی*، ج۴، انتشارات خیبر، کابل/ افغانستان.
مولانا شاه فیصل.(ب- ت). *تسهیل الهدایه پښتو شرح هدایه*، ج۸، فیصل کتب خانه، پېښور/ پاکستان.
مفتی محمد شفیع، ژباړن: شاه فیصل.(ب- ت). *تفسیر معارف القرآن*، ج۸، فیصل کتب خانه، پېښور/ پاکستان.
نذیر، داد محمد، ژپاړن: عبدالحمید وردګ.(۱۳۹۳هـ ش). *د اسلام اختصاصی جزایی حقوق*، لومړی چاپ، مسلم خپرندویه ټولنه، کابل/ افغانستان.
واثق،احمد ګل.(۱۳۹۷هـ ش). *د اسلام جزایی حقوق*، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال آباد/ افغانستان.
واصل، عبدالاقرار. (۱۳۹۸) هـ ل د *جزا اختصاصی حقوق*، ژباړن ذاکر الله ذاکر، کابل/ افغانستان، مستقبل خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ.
ابن نجیم المصری، زین الدین. (ب ت)*البحر الرایق شرح کنز الدقایق*، مکتبة: نعمانیه، پېښور/ پاکستان
الکاسانی، علاء الدین. (۱۳۲۷ هـ ق) بدایع الصنایع فی تربیب الشرایع. (ط ۱). بیروت: دار الکتب.
ابن عابدین،
محمد امین. (۱۹٦٦ م) حاشیة رد المحتار علی الدر المختار. (ط ۲). مصر: مکتبة مصطفی البابی. ابن الهمام، کمال الدین. (۱۴۳۸ هـ ق). شرح فتح القدیر علی الهدایة. (ط ۳) . بیروت: دارالکتب العلمیة.
مجموعة المؤلفین. (۱۴۰۴ هـ ق) الموسوعة الفقهیة الکوتیة. (ط۲). الکویت: وزارة الاوقاف والشؤن الاسلامیة.
الزحیلی، وهبة ابن مصطفی. (ب ت). الفقه الاسلامی و ادلته. (ط ۴) بیروت: دار الفکر.
عینی، بدر الدین. (۱۴۲۰ هـ ق) البنایة شرح الهدایة. (ط ۱) بیروت: دار الکتب العلمیة.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute Journal license date: June/2023

# A comparative scientific and economic study between criminal imprisonment and penal corporal punishment

**Mohammad Yousaf zamaniAbdul Aziz Abid**

**1.** Department, Production and and justice Faculty, Law and Political Science, Paktia University. myousafzamani2@gmail.com

2. Department of Jurisprudence and Law, Faculty of Sharia, Logar Higher Education Institute. Logar: Afghanistan.

## ABSTRACT

Given that, in the framework of the Ministry of Justice, there also exists a directorate of prison management that undertakes the management of accommodation at the country level. When the annual budget is planned and organized, the costs of food, accommodation, suitable living places, and management of the expenditures of the prisons are taken into consideration, which are a heavy financial burden on the treasury of our country.

Hence, how can it be possible to be able to have such an academic and economic plan from the Islamic perspective for the prisons of the treasury of Afghanistan through which another alternative way be proposed that is legally assured in the light of the application of the criminal law—following the will of Allah that He says: Allah orders on justice?

To achieve the same goal, I decided on a comparative study of the punishments of imprisonment and whipping, and using the library research method and reliable and quality resources, at the end of the comparative scientific study of penal sentences, I concluded that:

Imprisonment is a heavy financial burden on the public treasury, and it is a much higher scientific and Shariah alternative strategy in terms of punishing the criminal and punishing the society. It is the punishment im,posed by the judicial and judicial bodies on the criminal.

**Keywords**: Islamic criminal jurisprudence, types of crimes in terms of the judge's authority, the penalty of imprisonment, beating punishment, academic and economic comparison

**Cite this article:** Zamani. Mohammad Yousaf & Abid. Abdul Aziz. (2024). A comparative scientific and economic study between criminal imprisonment and penal corporal punishment, Ainak Academic – Research Journal (two Quarterly), 2(3): 172-183. Logar Higher Education Institute © The Author(s).